د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چـــارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

اتلسمه ګڼه ( زمری ) ۱۴۰۳ : شماره (۱۸) (اسد) ۱۴۰۳ لومړی مخ - صفحه اول



# عـــودت راستنیدنه
هفته نامه

**دغه څوکۍ یو لوی مسؤولیت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې یو خدمتګار دی.**

## د مهاجرینو چارو وزارت د تېر یو کال کړنې او لاسته راوړنې له ملت سره شریکې کړې




ملت ته د حساب ورکونې په لړ کې دا ځل د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د خپلو کړنو او لاسته راوړنو تېر یو کلن راپور وړاندې کړ.
په دې پروګرام کې د وزارت مالي او اداري او مسلکي مرستیالانو، د اطلاعاتو او عامه اړیکو او د پلان او پالیسۍ رییسانوبرخه اخیستې وه.
د وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد وویل: په مرکز کې د ۱۹ ریاستونو او خپلواکو ریاستونو سربېره، د مهاجرینو وزارت د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې ۳۴ ریاستونه او خپلواک آمریتونه لري او دغه راز په ایران، پاکستان، ترکیه او یونان کې د اتشو دفترونه هم شته چې یو شمېر یې فعال دي او د نورو ځانګو د فعالولو هڅې روانې دي.
دا وزارت د اسلامي امارت د یوې فعالې او مهمې ادارې په توګه د مهاجرینو، بې ځایه شویو او راستنیدونکو مسولیت په غاړه لري، اوس مهال ۷ میلیونه مهاجر او ۳ میلیونه داخلي بې ځایه شوي لرو.
د وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي کلیم الرحمن د اسلام له نظره د مهاجرت د ګټو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: د یوه خدمتګار په توګه احساس کوم، چې د خپلو مهاجرینو هرکلی کوو او اسلامي امارت د مهاجرینو ښه راغلاست ته تیار دی.
د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس مولوي محمودالحق احدي د دغه وزارت د یو کلن راپور په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل: تېر کال له ایران، پاکستان او یو شمېر نورو هېوادونو څخه یو میلیون ۷ سوه ۷۹ زره او ۶۰۳ مهاجرین راستانه شوي، چې له دې جملې څخه ۷۸۸ زره او ۸۲۱ بې ځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو سره د همکارو بنسټونو په همکارۍ نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستې شوي، د راستنو شویو مهاجرینو لپاره په موقتي مېشتغالو کې د اوسېدو ټولې اسانتیاوې، لکه: کلینیکونه، جوماتونه، وړیا سیم کارتونه، خوراکي توکي، د څښاک اوبه او لومړنۍ مرستې ورته برابرې شوې دي.
د دوی د هرکلي لپاره په ننګرهار، نیمروز، کندهار او هرات ولایتونو کې د استقبال مرکزونه فعال دي او په دې وروستیو کې د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د استقبال مرکز جوړ شوی او تر دې دمه ۱۳ زره ۳۷۳ کسان او ۵۲ کورنۍ هېواد ته راستنې شوي او د مرستندویو بنسټونو په همکارۍ هر شخص ته ۱۵۰ یورو ورکول شوې دي..
ښاغلي احدي زیاته کړه: اوس هم شاوخوا اوه میلیونه افغانان په ګاونډیو او نورو هېوادونو کې د مهاجرت ژوند تېروي او د وزارت مقامونو د پاکستان، ایران او ترکیې هېوادونو ته سفرونه کړي او له چارواکو او دیپلوماتانو سره یې لیدلي دي. کوربه هیوادونو د مهاجرینو د ستونزو او د هغوی د جبري ایستنې د مخنیوي په اړه بحث او خبرې اترې شوې دي.
په تېر یو کال کې د مهاجرینو چارو وزارت او د بهرنیو چارو وزارت په ګډو هڅو ۵ زره او ۷۶۶ تنه کډوال چې په پاکستان او ترکیه کې بندیان وو له زندانونو ازاد او په بېرنیو مرستو سره خپلو اصلي سیمو ته ستانه شول.
دغه راز له ایران څخه هم څلور زره بندیان چې د بېلابېلو جرمونو په تور نیول شوي وو، افغانستان ته لېږدول شوي او د نورو افغان بندیانو د خوشې کولو او لېږدولو هڅې هم روانې دي.
همدا راز په پاکستان او ایران کې مېشت ۶۰۰ مهاجرین د حج د مراسمو د ترسره کولو په موخه سعودي عربستان ته لېږدول شوي، ۹۶ زره ۲۹۳ راستنې شوې کورنۍ د اسلامي امارت له بودیجې څخه د خوراکي او غیر خوراکي توکو له مرستې ترلاسه کولو وروسته انتقال شوې دي او هرې کورنۍ ته ۱۰ زره افغانۍ ورکړل شوي، چې ټولټال ۵۳۴ میلیونه ۶۷۸ زره افغانۍ کېږي او دا لړۍ لا هم روانه ده.
د وزارت په هلو ځلو چین هېواد له راستنېدونکو او بې ځایه شویو سره د سل ملیونه چینایي یان مرسته اعلان کړه او وزارت په غوښتنه او د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله په امر د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون جوړ شو. دغه راز د مهاجرینو د ستونزو د هوارې په موخه د دغه وزارت لوړ پوړو چارواکو ننګرهار، لغمان، پکتیا، کندهار، زابل، نیمروز او هرات ولایتونو ته سفرونه کړي، چې راستنېدونکو ته لا ښه خدمتونه وړاندې کړي.
د راستنو شویو مهاجرینو د زامنو د زدکړو د بشپړتیا په موخه د مهاجرینو چارو وزیر د یو شمیر ولایتونو د خصوصي پوهنتونونو له رییسانو سره هم ناستې وکړې او له هغوی سره یې د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل او د طب، کمپیوټر ساینس، اقتصادي انجینرۍ، قضا او څارنوالۍ، حقوقو،



راستنیدنه عــــودت اونیزه هفته نامه

سرپرست وزارت امور مهاجرین، با روسای امور مهاجرین ولایات دیدار نمود

سیاسي علومو، ټولنیزو علومو، ژبو او ادبیاتو او نورو ډیرو څانگو کې د زدکړو زمینه ورته برابره شوې.

تېر کال له ۷۱۵ زره بې ځایه شویو سره بیړنۍ مرستې شوي، ۱۷ زره او ٦٦۷ کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته لیږدول شوي او ۲٦۴ زره او ٦۷٦ کسانو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې شوي، چې نږدې ۳۵ زره کسانو ته د بنسټونو په همکارۍ په بېلابېلو برخو کې مسلکي زدکړې ورکړل شوي او د کار زمینه ورته برابره شوې او زرگونه کسان د پوهنې او لوړو زدکړو وزارتونو ته د زدکړو د دوام لپاره ورپېژندل شوي دي.

د طبیعي سېلابونو له امله شاوخوا ۳۵ زره ۳۲۵ کورنۍ بې ځایه شوي او د دوی لپاره بنسټي خدمتونه برابر شوي دي.

د اړوندو ادارو په همکارۍ د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره کاري کمېټه جوړه شوه، چې تر اوسه یې شاوخوا ۴۵ زره کسان د وظیفو او مهارتونو لپاره ثبت کړي، راستنېدونکو سوداگرو او صنعتکارانو ته ښې اسانتیاوې او فرصتونه برابر شوي او د یو زر او ۲٦۵ تنو ته قانوني رسېدنه شوې.

د هېواد په ۲۹ ولایتونو کې د مهاجرینو لپاره ۴٦ استوگنځایونه جوړ شوي او په تېر کال کې ۱۳ د استوگنې ځایونه، ۱۱ ښوونځي، ٦ کلینیکونه، ٦ شنې خونې یا د کور باغونه، د اوبو شبکې، کانالونه، څاگانې او نور بنسټي خدمتونه وړاندې شوي دي.

د سرپنا جوړولو، حرفوي زدکړو، ښوونځیو، د خوراکي او غیر خوراکي توکو د وېش او نورو زیربنایي برخو کې له ۹۳ موسسو سره د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي. د څه باندې ۷ میلیونه ډالره لگول شوي او د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې په موخه له اوو او ۱۴ ښوونیزو ادارو سره هوکړه لیک لاسلیک شوی دی.

د وزارت مشرتابه د بې ځایه شویو او راستنېدونکو د وضعیت د ارزونې په موخه د کندهار، هرات، فراه، نیمروز، ننگرهار، اروزگان، لغمان، پکتیا او خوست ولایتونو ته پرلپسې کاري سفرونه کړي دي.

د وزارت وروستۍ پنځه کلنه ستراتیژي د ریاست الوزرا عالي مقام ته د استولو لپاره چمتو ده، د بې ځایه شویو، راستنېدونکو کادرونو او د راستنېدونکي ټولنې ملي تگلارې بیا کتل شوي، د وزارت د دعوت او ارشاد د درسونو ورځنۍ ارزونه، تدریس له نصاب سره سم تاکل شوی، د اسلامي ارزښتونو او ملي فرهنگ ساتنه، دیني زده کړو ته هڅونه، عقیدوي او اخلاقي مسایلو ته هڅونه په دوو ملي ژبو وړاندې شوې.

د پلان او پالیسۍ رییس د مهاجرینو چارو وزارت راتلونکي پلانونه هم وړاندې کړل چې په دې ډول دي: له راستنېدونکو او بې ځایه شویو سره مرستې، د خپلې خوښې راستنېدنې د بهیر پیاوړتیا او د تلپاتې بیامیشتېدنې لپاره د زمینې برابرول، د منظمو مهاجرتونو رامنځته کول، د هېواد په اقتصاد کې د مهاجرینو ونډه، ظرفیت لوړول، ښه حکومتداري، حساب ورکونه او روڼتیا، د مهاجرینو د اتشو د څانگو فعالول، په ښارگوټو کې لومړني خدمتونه، د مسلکي کادرونو د راستنیدو هڅونه، او د راستنیدونکو، بې ځایه شویو کسانو قانوني ملاتړ او د کارکوونکو د ظرفیت لوړول.

په پای کې د خبریالانو پوښتنو ته ځوابونه وویل شول.

## د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري عمومي رییس د مهاجرینو چارو وزیر سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې له عمومي رییس مفتي شهزاد نور راشد سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې د دواړو لوریو ترمنځ د ملکي خدمتونو ادارې د کارکوونکو د اداري او کاري پروسو د ظرفیتونو لوړولو، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د گومارنې د اسانتیاوو او د ملکي خدمتونو د کمیسیون د تخنیکي او تقنیني اسنادو په اړه خبرې وشوې.

د مهاجرینو چارو وزیر، ښاغلي راشد ته ښه راغلاست ووایه، د دغې اداري کړنې یې د ستاینې او ډاډ وړ وبللې او زیاته یې کړه: زموږ ولس په خپلو کارونو کې اسانتیا او روڼتیا ته زیاته هیله لري او د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ظرفیت لوړونې ته لا ډېره پاملرنه پکار ده.

ښاغلي حقاني د خپلو خبرو په یوه برخه کې د مهاجرینو او کډوالو مسلکي کادرونو ته اشاره وکړه او د دغه کمیسیون د پاملرنې غوښتنه یې څرگنده کړه، چې د ملکي خدمتونو ادارو کې د گومارنې لومړیتوب ورکړل شي.



## سرپرست وزارت امور مهاجرین، با روسای امور مهاجرین ولایات دیدار نمود

الحاج خلیل الرحمن حقانی سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با روسای امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایات بغلان، زابل و فراه در دفتر کارش دیدار نمودند .

دراین دیدارها درمورد مشکلات بیجا شده ها، توزیع مساعدتهای بشری، اجراآت ادارات امور مهاجرین ولایات متذکره ، کارکرد و فعالیت نهاد های همکار و هماهنگی و همکاری در اجراآت آنان صحبت گردید.

محترم حقانی گفت: در توزیع کمک های موسسات به افراد مستحق باید شفافیت کامل در نظر گرفته شود تا خانواده های نیازمند از آن محروم نمانند.

سرپرست وزارت امور مهاجرین به منظور رفع مشکلات مطرح شده هدایات و رهنمود های لازم به آنان ارائه نمود.



## تفاهم نامه های همکاری با دو موسسه در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

دو تفاهم نامه همکاری به ارزش ۲ صدو ۲۲ هزار و ۲۷۲ دالر امریکایی با موسسات رفاه راه رهنورد و روغتیا، معلولیت او پرمختگ در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های یاد شده و روغتیا، معلولیت او پرمختگ مبلغ یک صدو ٤٩ هزار و ۹۷۷ دالر را در بخش توزیع پول نقد برای ۲۹۱ خانواده در ولایت کنر به مصرف میرساند.

و موسسه رفاه راه رهنورد مبلغ ۷۲ هزار و ۲۹۵ دالر را دربخش اموزش های حرفوی برای مهاجرین و بیجاشده ها در ولایت هرات به مصرف خواهد رسانید که تعداد یک هزار و ۹۰ خانواده از آن مستفید خواهد شد.

تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و نماینده های نهاد های یاد شده به امضا رسید.



## د کاپیسا والي د دغه ولایت د مهاجرینو چارو آمریت لیدنه وکړه

د کاپیسا ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت د معلوماتو له مخې، د دغه ولایت والي قاري احسان الله بریال او ورسره مل پلاوي د زمرۍ پر شلمه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست لیدنه وکړه.

د مهاجرینو چارو آمر مولوي حمدالله شهیدزاده د پلاوي د کاري استقامت، لاسته راوړنو او کاري ننگونو په اړه هر اړخیز راپور وړاندې کړ.

د کاپیسا والي د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره د خدمتونو په برخه کې د ترسره شویو کارونو قدردانۍ او ستاینې ترڅنگ په بېلابېلو برخو کې د مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

